ليکوال: ع. شيرزوی نيټه ۲۷-۱۰-۲۰۱۰

# توريِ پيسيِ توريِ پروژيِ

پديِ ورستيو کيِ د اکتوبر د مياشتيِ په ۲۳ نيټه نيويارک ټايمز ورځپاڼی د يوه رپوټ په حواله دا خبره رسوا کړه چيِ په کابل کيِ د ايران سفير فدا حسين مالکی د تهران د هوايي ډګر څخه د الوتنيِ پر مهال په الوتکه کيِ د کرزی د دفتر رئيس عمر داوود زی ته هغه کڅوړه ورکړه چيِ د ايرو په بنډلونو ډکه وه ددې خبرې د رسوا کيدو سره جوخت مالکی او د ارګ واکمنانو هڅه وکړه چيِ ديِ معامليِ ته بل رنګ او د حقيقت څخه تيښته وکړي دا چيِ دا توره معامله يو څرګند حقيقت وه د رسوايي په پايله کيِ دويِ يې دي ته اړ باسل چيِ پخپل جرم اعتراف وکړي چيِ ايران د افغانستان سره د بيا رغونيِ په برخه کيِ د قانونيِ سرچينو له لارې مرسته کوي.

جناب کرزی دا هم ومنله چيِ د ايران لوړ پوړيِ مقامات په کابل کيِ په کال دوه وارې د ۵، ۶ ، او ۷ لکو يورو په اندازه پيسيِ ورکوي تر څويي د ارګ په فرهنګيِ واکمنانو باندې وويشي، او زياده اندازې يې په خپل جيب کيِ واچوي او د ايرانيانو پليدو موخو ته په هر اړخيز ډول لاره هواره کړي. ددې عمل په سرته رسولو سره په ټوله نړۍ کيِ د کرزی او دهغيِ د تليِ څټو د بدناميِ، غلا، ټکيِ، برګيِ او وطن پلورنيِ انګازې خپرې شوې.

کرزی په ډير اخلاقيِ جرات سره دا خبره تايد کړه چيِ دا هر څه زما په امر تر سره شوي دي او دا پيسيِ د ارګ د مامورينو پر معاشاتو مصرفيږي « حال دا چيِ کرزی په څوڅو وارې دا خبره د مطبوعاتو د لارې ولس ته په ډاګه کړي چيِ مونږ درنيم مليارده ډالر په بانک کيِ زيرمه لرو پدې هکله دي ولس هيڅ تشويش ونلري » سوال دا دي چيِ په ګران هيواد افغانستان کيِ يو کوچنيِ اداري واحد ځانته ځانګړې بودجه لري چيِ د هر کال په پيل کيِ د ماليې وزارت لخوا منظوريږي د ماليې د وزارت دنده څه ده؟ چيِ د کرزی د ارګ مامورين د پټو کڅوړو پر مټ معاشونه اخلي.

د پرديو همدا توريِ او کړغيړنيِ پيسيِ دي چيِ ايرانيان يې د ارګ ټيکدارانو ته په چارشاخو بادوي تر څو خپليِ شوميِ او پليدې پروژې پدې جنګ ځپليِ هيواد کيِ تر سره کړي د داودزی او نورو پشان وطن پرست انسانان دې موخو ته وګماري تر څو زمونږ په هيواد کيِ مذهبيِ او فرهنګيِ يرغل ته لاره خلاصه کړي.

د ايرانيانو بله پروژه په دولتی ادارو کيِ د ايرانی اجنټانو ځای پر ځای کول او هغويته زياد رول ورکول دي تر زمونږ هيواد ددوي په مټ داداری فساد په سرته رسولو کيِ د نړۍ په لمړۍ فهرست کيِ ځای ونيسي، د همدې اجنبيانو له برکته د ړوند والي د نړۍ وال سازمان د احصاييِ له مخې افغانستان يې په نړۍ کيِ دريم فاسد هيواد بلليِ دي.

د همدې تورو پيسو په نذرانه کولو سره د زرخريدو غلامانو په رانيولو سره د ولسی جرګيِ او مشرانو جرګيِ په انتخاباتو کيِ خپل شخصی او ګوندی ملګرې د بريا تر پوړيو پورې ورسوي ترڅو د هيواد د پرمختيايي پلانونو په مقابل کيِ خنډ او هغه سبوتاژ کړي او د تل له پاره زمونږ د مظلوم ولس لاسونه د دوي په لور اوږده او د مرستيِ غوښتنه وکړي.

بله ډيره خطرناکه پروژه چيِ ايرانيان يې زمونږ په هيواد کيِ پر مخ وړي هغه قومی، ژبنيِ، مذهبيِ او کلتورې تضادونه پکه وهل دي تر څو ددي مست اور په تاو کيِ ټول مظلوم ملت وسوزي، که د ايران توريِ پيسيِ د معلوالحالواجنټانو په واسطه نه وي نذرانه ښوي افغانانو به يو دبل په سر ميخونه نه ټکوهل، په افغانانو  به رقص بسمل نه اجراکيده، په کانتينرونو کيِ به ژوندې انسانان نه سوزول کيدل، د وطن ملی شتمنيِ به د پرديو پلاسو کيِ نه لويدله يو وړوکۍ مثال چيِ په سمندر کيِ د څاڅکيِ حيثيت لري د وطن ۲۵۰۰۰۰ زره هکتاره دولتی او شخصی ځمکه تر خپل واک لاندې نه راوستله همدا د ځمکو مافيايي کړې وي چيِ د پورته ځمکو څخه يې نمرې او هره نمره يې د لسو څخه پنځلس زرو ډالرو خرڅيِ کړي او کوچنيِ ښارګوټيِ يې لکه « شين ښارګوټيِ په دشت برچيِ کيِ د عبدالنبی د خليلی دورور » نه جوړيدلي په لنډ ډول سره ويليِ شوو چيِ :

د افغانستان ملی ترمينالوژی پښتو ژبه « ملی ژبه » به له حکومتی دفترو ، پوهنتونو څخه نه رخصت کيدله، پښتنانه به ولی د هيوادپه شمال او لوديځ کيِ د سلګونو جنازو شاهدان واي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزير په لمړۍ وار د ولسيِ جرګيِ نه ۴۰٪ رايه تر لاسه کړه خو د صبا ورځۍ په جلسه کيِ ۸۰٪ رايه خپل کړه دا ټول څه دي؟   او دا ولې؟ دا د ايران نذرانه ده د خپلو پليدو پروژو د پليِ کولو په خاطر د اجنټانو په وجود کيِ د رهين ملی ضد دريځ ټول ولس ته بربنډ دي او هيڅوک ور څخه سترګيِ نشيِ پټوليِ. د تورو پيسو راوړنکيِ او اخيستونکيِ د افغان ولس دوښمنان دي دوي د ولس د وينو، اوښکو او نورو بد مرغيو عاملين او سودرګران دي، د وطن د هر وګړې دنده او


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنيِ د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ملی وجیبه ده ددي بهرنيو سوداګرو او وطن پلورونکو پر ضد د مبارزی سنګر ته راودانګي نور برې نږدي چې د بهرنيانو د غرض او لالیچ څخه ډکې پروژې چې د وطن بربادي ورڅخه تومنه اخلي مخه ونيسي.

په درناوی


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ